د افغانستان اسلامي امارت

**ستره محکمه**

**د دارالانشاء عمومي رياست**

**د تحريراتو آمريت**

**د متحدالمآلونو څانګه**

د متحدالمآل ګڼه: ۴۸

نېټه: ۱۴۴۴/۹/۲۱ هق

☐عاجل ☐عادی ☐ اطمینانیه ☐ ابلاغیه ☐ سایر

---

د افغانستان اسلامي امارت د تميز ونو ، دېوانونو، مرافعه او ابتدائيه محکمو قدرمنو منسوبينو ته!

السلام عليکم ورحمت الله وبرکاته

وبعد : د ستري محکمې د دارالانشاء عمومي رياست د متحدالمآل نمبر (۱۸) مورخ ۱۴۴۳/۱۱/۱۶هق په تعقيب ليکو:
د افغانستان اسلامي امارت د مشرتابه محترم مقام د دفتر رياست په مکتوب نمبر(۷۱۸ج۱)مورخ ۱۴۴۳/۱۰/۲۵هق کي داسي هدايت شوی وو:((د ستري محکمې اړوند مسئولينو د تغير او تبديل په صورت کي دي هر مسئول ټول اسناد، اجناس، وسائط او بنديان چي د هغه ځای مربوط وي په پوره وضاحت سره نوي ټاکل سوي مسئول ته سپاري، تر څو نوي مسئول ته په کارونو کي هيڅ ابهام پاته نه سي، هيڅ مسئول دي نقليه وسائط د ځان سره نه نقلوي کوم چي د هغه ځای مربوط دي.)) چي ياد هدايت د پورته ذکر شوي متحدالمآل په توسط ټولو محکمو ته استول شوی وو او د ستري محکمې د محترم مقام د هدايت په اساس د ياد متحدالمآل په اخير کي داسي يادونه شوي وه: ((د محاکمو هغه مسؤلين چي له يو ځای څخه بل ځای ته تبديليږي، د ستري محکمې د دارالانشاء عمومي رياست لخوا ورکړل شوي سيمکارتونه دې هم (د هغه پر ځای نوي ټاکل شوي) مسؤل ته وسپاري ځکه چي دغه سيمکارتونه په ستره محکمه کي د شخص په نوم نه بلکه د محکمې يا ديوان په نوم ثبت دي او په دې طريقه به د شخص په بدليدو د محکمې نمبر نه بدليږي.))
دا چي ځيني وخت پورته ذکر شوي سيمکارتونو ته زنګ وهل کيږي ځيني يې فعال نه وي يا خو فعال وي خو پخواني مسؤل له ځان سره وړی وي او يا هم غير فعال دي چي له امله يې د ولايتونو د استيناف او ابتدائيه محاکمو سره د رابطي او هماهنګۍ پروسه له خنډ او ځنډ سره مخ شوې ده.
بناءً د افغانستان اسلامي امارت د ټولو ولايتونو د استيناف محکمو محترمو رئيسانو صاحبانو ته خبر ورکول کيږي چي د خپل ولايت اړونده محاکمو د فعال او غير فعال سيمکارتونو څخه اطمينان حاصل کړي او د فعال او غير فعال سيمکارتونو جدول د دارالانشاء عمومي رياست ته تر ۱۴۴۴/۹/۲۸هق نېټې پوري راواستوي تر څو د ستري محکمې محترم مقام سره يې معلومات شريک او په اړه يې لازم اجرآت تر سره شي.

په درنښت

مفتي عبدالرشيد "سعيد"

د ستري محکمې

د دارالانشاء عمومي رئيس

ستره محکمه
رياست عمومی دارالانشاء

۲۱ / ۹ / ۱۴۴۴ هق

---

Address: Public health Square 9th District, Kabul-Af
Phone: 0202301138
Post box: 1989
Website: www.supremecourt.gov.af

پته: د صحت عامې څلور لارې، نهمه ناحیه، کابل- افغانستان
تیلفون : ۰۲۰۲۳۰۱۱۳۸
پست بکس : ۱۹۸۹
secretariat@supremecourt.gov.af